
(c) ketabton.com: The Digital Library

**گران زده کوونکي به د دغه څپرکي په لوستلو سره د لاندنیو مهارتي مطالبو په هکله معلومات ترلاسه کړي:**

- دوی به اقلیمي مهم فکتورونه وپیژني او یو له بل څخه به یې توپیرو کولای شي
- د اقلیمي سیمو د تودوخې د درجو فرق به وکولای شي
- نسبتي او مطلق لنده بل به وپیژني
- د بادونو لوړ او ټیټ فشار به وپیژني
- د بیلابیل اقلیم ډولونو توپیر وکړای شي
- غرنی اقلیم به له استیپ څخه جلا کړای شي
- د استیپ او نیمه استوایي اقلیمونو توپیر به وپیژني
- د مدیترانه او غرنی اقلیم په توپیر به پوه شي
- د مونسوني او مدیترانه یي اقلیم په توپیر به پوه شي
- د غرنی او صحرایي اقلیم په توپیر به پوه شي




۲۵- انځور

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي اوهره ډله دې په لاندنیو موضوعګانو بحثونه وکړي: تودوخه، جغرافیایي عرض البلدي موقعیت او د ارتفاع له مخې دې دري اقلیمي سیمې معرفي کړي.

## پوښتنې:

تش ځایونه په مناسبو جملو او کلمو ډکې کړئ

- تودوخه د . . . . . . . . . . . . . . . یوه ځانګړتیا ده.
- کله چې د لمر وړانګې له . . . . . . . . ځخه د . . . . . . . . مخ ته رارسیږي د هغې د تودوخې سبب کیږي.
- افغانستان د شمال عرض د . . . . . . . . او . . . . . . . درجو ترمنځ پروت هیواد دی.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اقلیمي نقشې له مخې د افغانستان صحرایي سیمې په ګوته کړئ.



G10 Fasli (2).indd 32 8/16/2011 7:29:57 AM
(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸ انځور

صديقي ريګستان، د مارګو د ښته، جهندم، بکوا او د آمو د سيند تر غاړې يو صحرايي پټې د دغه صحرايي اقليم ځرګندونې کوي ځانګړتياوې دادي چې اورښت يې لږ او د يوې مياشتې په ترڅ کې د اورښت منځنى اندازه يې ۵-۱۰ ميلي متره وي چې هغه هم له ډير ځنډورروسته پيښيږي. همدارنګه په دغه ډول صحرايي اقليم لرونکو سيمو کې دښتې او ورځې ترمنځ د تودوخې توپير هم په ژمي او هم په اوړي کې ډير زيات وي او واوره يې کله نه وريږي. د همدغه ځانګړتياوو له امله او د جوي عوارضو د اغيزي له کبله يې تيرې ماتيږي د شګو لوېې او کوچنۍ ډېرى د شګلنو غونډيو (DUNE) په بڼو ليدل کيږي. د دغه ډول سيمو بوټي هغه اغزي او زقوم دي چې په تودو سيمو کې د لږ اورښت او وچوالي په وړاندې مقاومت لري وده کوي.



۲۹ انځور



۳۰ انځور

## ۲. مونسوني اقليم:



۳۱ انځور

سپين غر او د نورستان د غربى سيمې او د لغمان يوه برخه دغه ډول اقليم لري د پکتيا ولايت په تيره بيا خوست د هند د سمندر له مونسوني با دو څخه اغيرمن دی، دا ځکه چې په اوړي کې د هند د سمندر لنده بل لرونکې جريانونه او په ژمي کې د سايبريا سوړ جريان د دغه سيمې لمدبل باندې غوره اغيزه کوي. د دغې



G10 Fasli (2).indd 38 8/16/2011 7:30:05 AM

يوولسم لوست:

# ٤. د ستپ سيمو اقليم:



۳۳ - انځور: غرنی ستپ اقليم ښيي

آيا تاسې پوهيږئ چې ستيپ اقليم کوم ډول ځانگړتيا وې لري؟

په افغانستان کې د ستيپ د اقليم سيمه د مونسون او مديترانه يي اقليم پرتله پراخه ده هغه ځرگندي ځانگړتياوې چې د ستيپ اقليم يې لري، د هغې وچ اقليم دی. په همدغه سيمه کې دشپې او ورځې ترمنځ په تودوخه کې د سانتي گراد ۲۰ درجې توپير وي. دغه توپير د کال په ترځ د ۳۰-۳۵ درجو ترمنځ زياتيږي. اوربښت يې عموماً په ژمي کې وي چې اندازه يې په منځنی توگه ۲۵۰ -۳۰۰ ميلي مترو پورې وي. د ستيپ سيمې اکثراً واښه لري ټيټ قدي بوټي اوځينو ځايونو کې په پراخه ځمکو کې کرکې کې شنه کيږي چې څارويو روزنې ته غوره دي. له نيکه مرغه د هندوکش او سپين غر د غرونو د لړی شتوالي په دغه سيمه کې پراخه سارا له منځه وړې ده. د افغانستان د ستيپ سيمه د هندوکش د غرونو د لړی په واسطه په دوو برخو ويشل شوې ده:

د شمالي ستيپ ساحه او دجنوبي ستيپ سيمه

د شمال په ستيپ کې لاندې متيورولوجی ستيشنونه شته:

د بغلان، ميمنې، مزارشريف، کندز او هرات ستيشنونه. دغه ستيشنونه د ستيپ په اوارو سيمو کې دي. د هندوکش شمالي ځوړې ټول د شمالي ستيپ په برخه کې شميرل کيږي. هغه ځانگړتياوې چې شمالي ستيپ يې لري، د مالداری او کرنې لپاره يې ډير



G10 Fasli (2).indd 41 8/16/2011 7:30:08 AM
(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. هغه سیمې چې له..............څخه ........................مترو لوړې دې د افغانستان غرونه جوړوي.

٤. هغه سیمې چې په منځنی ارتفاع سره له ........څخه تر.......مترو پورې دی د........ په نوم یادیږي.

٥. هغه سیمې چې د سمندر له کچې..................څخه تر.....................مترو لوړوالی لري، په عمومي توګه د..................په نوم یادیږي.

شرح یې کړئ:

۱. د آمو لړ ارتفاع لرونکې ساحې کومې سیمې دي، نوم یې واخلئ.

۲. د هلمند حوزه کومې سیمې را اخلي، کومې اقلیمی ځانګړتیاوې لري؟

۳. د ننګرهار لړ ارتفاع لرونکې حوزه د هغې له اقلیمي او کرنیزو ځانګړتیاوو سره شرحه کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان یوه سپینه نقشه رسم کړئ، په هغې کې د افغانستان اراضي په بیلابیلو رنګونو وښیئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

G10 Fasli (3).indd 52 8/16/2011 7:31:18 AM

**د ستپ سیمه**:

د دې سیمې ژوي لکه شیشګي، موږک، لاش خوړونکی مرغان، یو شمیر حشرات، کارغان، سوی، ګیدړې او چرمښکي دي.

**الپاین سیمه**:

په دغو سیمو کې تي لرونکي ژوي لکه په پامیر کې غرنی وزې چې په بدخشان او نورستان کې هم شته. مار خور او غرني پسونه په واخان او مرکزي لوړو سیمو کې. همدارنګه تور غرني کارغان، کارغه او غرني چرګان چې ګل کوه کې شته او همدارنګه زري زرکان، غرني زرکان ،زانې، مرزان او نور هم په دې سیمه کې ژوند کوي.

**صحرايي سیمه**:

د صدیقي په تودو شګلنو دښتو او د فراه او سیستان بیلا بیلو سیمو، د مارګو او نورو سارایي سیمو کې یو شمیر ژوی لکه: ډول ډول موږکان، ګیدړې، سورلنډیان، حشرات او ښنیدونکي ژوی شته موږ هغه ژوو په هکله چې د اقلیمي بیلابیلو ځانګړو له مخې بیلابیلو سیمو کې موندل کیږي، بحث وکړ، خو یو شمیر کورني څاروي هم د ستیپ په سیمو کې روزل کیږي او تل ورڅخه ګټه اخیستل کیږي او د غوښې شیدو، پوستکي او وړیو د عایداتو له پلوه لوړ اقتصادي ارزښت لري.



٤٨ انځور



G10 Fasli (3).indd 69 8/16/2011 7:31:34 AM
(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوبه په کرهنه کې سيده ارزښت لري چه داوړي په موسم کې د بندونو کانالونو پوسيله کرهنيزه ځمکوته ورکول کيږي او به د برښنا د انرژۍ له کبله اقتصادي ښه منبع ده پدې هکله د کجکې بند، سروبي ، نغلو، او درونټې له بند څخه د بريښنا د انرژي لاس ته راځي.



۵۵انځور

او همدارنکه د اوبو گرځونې بندونه چه د هلمند په وادي کې، ننگر هار، لوگر، هرات کابل او د هېواد په شمالي سيمو کې کرهنيز و ځمکوته اوبه برابر وي.



٥٦ انځور

### د ټولګي دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي، هره ډله دې له خپلو ټولګيوالو سره مشوره وکړي، کوم کارونه ترسره کيدای شي چې اوبه بې ځايه له لاسه و نه وزی د کورونو په لګښت کې کمی راشي ترڅو د کرنې په برخه کې د اوبو په لګښت کې سپما راشي؟



G10 Fasli (3).indd 83 8/16/2011 7:31:47 AM

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کونکي دې ډلې ډلې شي،هره ډله به دوحشي ژوبو د ساتنې، له وحشي ژوبو څخه غوره ګټه اخیستنه، دوحشي ژوبودډولونو، دوحشي ژوبوداوسیدودسیمو، دملي پارکونودساتنې اوله هغه څخه داستفادې په هکله خبرې وکړي اوبیابه دهرې ډلې استازی دخپلو خبرواترو پایله ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

۱ - زموږ د هیوادوحشي ژوي دکوموسیمودژوبو په شان دي؟
۲ - له وحشي ژوبوڅخه څه ډول استفاده کیږي؟
۳ - وحشي ژوي په هیوادکې کوم اقتصادي اهمیت لري؟
۴ - ملي پارک تعریف کړئ؟
۵ - ملي پارکونه څرنګه وساتو؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د هیواد دوحشي ژوبودډولو اودملي پارکونودساتنې په هکله دوه پاڼې یوه مقاله ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library
G10 Fasli (4).indd 132
8/16/2011 7:33:27 AM

- کهکشانونه به وپیژني
- سیارې، ستورې او اقمار به وپیژني
- د شمسي منظومي او سیارو په هکله به معلومات حاصل کړي
- د لمر پر شاوخوا د سیارو چورلیدل زده کړي
- د ځمکې، سیارو او لمر په هکله معلومات حاصل کړي
- د نړۍ د وچو او اوبو په هکله به معلومات حاصل کړي
- د لویو سیندونو په هکله به معلومات حاصل کړي
- د سپوږمۍ په هکله به معلومات حاصل کړي
- خسوف او کسوف به وپیژني
- د ځمکې حرکتونو ډولونه او نتایج به وپیژني
- طول البلد او عرض البلد وپیژني

**زده کوونکي به د دې څپرکي په لوستلو سره لاندې مهارتې موخې تر لاسه کړي:**

- د نړۍ د پیدایښت نظریې به توضیح کړای شي
- ستورې او سیارې به یو له بل سره فرق کړای شي
- د شمسي منظومي فعالیت ډولونه به توضیح کړای شي
- د ځمکې واټن به د لمر او سیارو سره بیان کړي
- د وچې او اوبو نسبت به وپیژني او بیان یې کړي
- د خسوف او کسوف د پیښیدو څرنګوالی به بیان کړي
- د ځمکې حرکتونه او پایلې به توضیح کړي
- طول البلد او عرض البلد به توضیح کړي.

G10 Fasli (6).indd 164 8/16/2011 7:36:39 AM
(c) ketabton.com: The Digital Library

شان و، یوبل آسماني غونډاری چې ډېر غټ و د لمر له شنګه په یوه لرې واټن تېرشو. ددغه غونډاري د جذب قوی په لمر باندې اغیزه وکړه اود لمر پرمخ یې مد او جذر راپیداکړل. د دغو مد او جذر له امله د لمر مخ پراخه شو اوبیا ټوټه ټوټه شو، دغه ټوټې په بېلابېلو اندازو باندې لرې او نږدې خپرې شوې، په دې توګه د لمریزنظام ستوري رامنځته شول.

• **د لاکییر نظریه**:

امریکایي پوه لاکییر په دې عقیده و چې په فضا کې یو شمېر آسماني تیږې (Meteorites)وو هغه ستوري چې په لمریز نظام کې دي، د همدغو تیږو له یوځای کیدو څخه جوړشوي دي.

له بلې خوا، نړۍ د لویې چاودنې په ترڅ کې جوړه شوه چې دغې چاودنې ته (Big Bang) یا ډېرهستره چاودنه وایي. همدغې چاودنې له امله کائیناتو کهکشان په فضا کی د بیلابیلو منظومو شیدو لاره (پیولار) رامنځته شوه چې له ځمکې څخه د سپینې پټارې په بڼه ښکارې پورته لیکل شوې نظریې فرضیه ده د اسلام دلید له نظره منطقي او علمي تهداب نلري.



(c) ketabton.com: The Digital Library
G10 Fasli (6).indd 167 8/16/2011 7:36:39 AM

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤٨ - لوست:

# کهکشان Galaxy



١١٢- انځور کهکشان ښيي

تاسې د کهکشان په هکله څه پوهيږئ؟

د کائيناتو په ډېره پراخه او لايتناهي فضا کې آسماني ذرات او گازونه د لوگي په بڼه اود هايدروجني وريځې او غبار په بڼه ښکاري چې پراخوالی يې بې حده اوبې اندازې دی. دغه لويه آسماني کتله په ډېري چټکی سره د خپل محور پرشاوخوا گرځي د کهکشان کتلې بيضوي بڼه نيولې اود مقناطيسي او جاذبې ځانگرتياوې لري.

دغه ذرات د جاذبې تر اغيزې لاندې ځينې وخت يوبل سره راټوليږي، لوی اوکوچني غونډاري جوړوي چې د کهکشان ياگلکسې په نوم ياديږي. ذرات د جاذبې له امله په پوره تيزی غونډارو ته جذب کيږي د ذراتو اصطکاک او ټکر تودوخه رامنځته کوي. د بيلگې په توگه لمر په کهکشان کې چې ميليونونه کاله مخکې رامنځته شوي. د ذراتو د ټکر له امله د يو لوی ځلانده اور لرونکی غونډاري په توگه رامنځته شوي چې د لمر د مخ تودوخه د سانتي گراد ۶۰۰۰ درجو ته رسيږي. د کهکشان د نيبولا محوري گرځېدل بيضوي او فنر ډوله (spiral) بڼه لري اودهغه په منځ کې لمريز نظام کتله د خو خو ستوريو او سپوږميو د جوړېدو لامل شوې ده، نوځکه په کهکشانونو کې په ميليونونو ستوري، سپوږمکی او ثوابت تر سترگو کيږي چې هريوېي بيلا بيل جسامتونه او ځانگړتياوې لري. په کائيناتو کې تر اوسه پورې لاندني کهکشانونه کشف او پيژندل شوي دي.

- د شيدو لار (پيولار) Milky way کهکشان
- د اندرو ميدا (Andromeda) کهکشان.
- درې گونی (Trianglum) کهکشان.
- قنطورس (Qanturis) کهکشان.



G10 Fasli (6).indd 169 8/16/2011 7:36:41 AM

- ☐ بارومتر د هوا فشار ښکاره کوي او باروګراف هغه ثبتوي.
- ☐ باران سنجوونکی وسايل د باران اورښت په کره توګه اندازه کوي.
- ☐ سايکرومتر يو وچ او لنده بل لرونکی ترماميتر دي چې د هغه د درجو توپير نسبتي لنده بل ښکاره کوي
- ☐ د لمر د ځرګنديد و آله د لمر دوړانګو اندازه ښکاره کوي.
- ☐ همدار نګه د وريځو لوروالي او د هغو لنده بل هم د سنجولو آله لري.
- ☐ د باد لګيدو د چټکوالي په آني مومتر ښودل کيږي چې په عادي توګه او هم په بريښنايي ډول ښودل کيږي
- ☐ راديوساند هغه بالون دی چې په هغه کې د جوي څيړنو ټول وسايل ايښودل کيږي او د اتموسفير په بېلابېلو ارتفاعاتو کې جوي حالات ثبتوي او خپل اړونده ستېشن ته يې په ځمکه کې مخابره کوي.
- ☐ د مصنوعي سپوږ مکيو شبکې د ځمکې پرمخ دليدلو ډيره پراخه ساحه لري چې دسيمي او د ټولې نړی په کچه په اتومات ډول جوي حالات هر هيواد ته څرګندوي. د مصنوعي اقمارو (سپوږمکيو) شبکه د هوايي ډګرونو، دالوتکو الوتنو، ولويبيړيو تګلارو، دکرنې دلارښوونې، اوبولګولو، د چاپيريال ساتنې او ژوند، ځنګلونو سيلاوونو، څرځايونو او نور و ټولو طبيعي پيښو په اړه معلومات او را پورونه چمتو او خلکو ته يې وړاندې کوي.

همدارنګه د سونامي، هر يکن، تيفون او سارايي کيدو دګواښونو په هکله معلومات خپروي ترڅواړونده ځانګې لازم تدابير په پام کې ونيسي.

## د ټولګي د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په څوډلو وويشل شي او د لاندنيو موضوعاتو په اړه دې خبرې و کړي او پايله دې و وايي:

۱. د راډيو ساوند په هکله
۲. د رادار په هکله
۳. د جوي حالاتو لپاره مصنوعي سپوږمکۍ

## پوښتنې

۱. تودوخه په څه شي اندازه کيږي؟ الف- په راديو ساوند ب- په انيمومتر ج- په بارومتر د- په ترماميتر

۲. د هوا فشار په کومه آله ثبت کيږي؟ الف- هايدرو متر ب- په باروګراف ج- په ترموګراف د- په سايګرو متر

۳. مصنوعي سپوږمکۍ د هوا پيژند نې په هکله څرنګه معلومات ورکوي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

هر زده کوونکی دې د خپل مورپلار په مشوره يا هم د کتابتون په کتنه د جوي حالاتو دوړاندوينې په اړه يوه، يوه پاڼه مقاله وليکې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

G10 Fasli (7).indd 226 8/16/2011 7:38:20 AM

